# د قیامت د ورځې ګواهان

**25-August-2022**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 25 اګست کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د قیامت د ورځې ګواهان

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

۞۔۔۔ د ټولو آخري جَنَّتي
۞۔۔۔ د قیامت یوه دردونکې نظاره
۞۔۔۔د اللہ پاک په بارګاه کښې د وړاندې کیدو ویره
۞۔۔۔بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکي عملونه

## پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِیَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ شريف فضيلت

صحابئ رسول حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې: د يو ځلې واقعه ده چې د سحر په وخت د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان چې د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: الله پاک پيغام راليږلے دے: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو کوم اُمَّتي چې په تاسو باندې يو ځل دُرود شريف اولولي، زه به د هغه د پاره 10 نيکئ ليکم، د هغه به 10 ګناهونه ورانووم، 10 درجې به ورله اوچتووم او هم دومره رحمت به پرې ليږم۔ (1)

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے (2)

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو ملاتړ وئيلے شي، ځوک چې د هر بے خبره خبر ساتونکے دے، په هغوئي دې

1...مُسْنَدِ اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

درود او سلام وي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديث شريف کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي۔[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، ېخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو آخري جنّتي

د صحابئ رسول حضرت ابو اُمَامه باهلي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د غيبو علم لرونکے آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: هغه کَس کوم چې به د ټولو په آخر کښې جنّت ته ځي، هغه به پل صراط باندې په ژړا ژړا بوتللے شي، لکه څنګه چې پلار خپل ځوي وهي نو ځوي د بچ کيدو کوشش کوي،

1...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

د هغه کَس به هم داسې حالت وي، د هغه عملونه به د دې لائق نه وي چې په پل صراط ئې واړوي- هغه به ګنهګاران د دوزخ په شا ساتي، په تيارو کښې ډوب شوي، د تورې نه تيره او د ويښتنه نه په نري پل صراط به په ژړا ژړا خپل رَبِّ کريم ته چغې وهي: يَا رَبِّ! بَلِّغْنِى الْجَنَّةَ وَنَجِّنِى مِنَ النَّارِ يعني اے رَبِّ کريمه! ما جنّت ته اوليږه، اے زما رحمان او رحيم الله پاکه! ما ته د دوزخ نه خلاصے را عطا کړه- الله پاک به فرمائي: اے بنده! که چرې زه تا د دوزخ نه خلاص کړم او جنّت درته عطا کړم نو ته به د خپلو ګناهونو او خطاګانو اقرار اوکړې؟ بنده به عرض اوکړي: آؤ، اے رَبِّ کريمه! ستا په عزّت او جلال مې دې قسم وي! که چرې ماته د دوزخ نه خلاصے نصيب شي نو خامخا به د خپلو ګناهونو اقرار اوکړم- نو داسې به هغه په پلِ صراط په آسانه سره تير کړے شي- اوس به بنده سوچ کوي: که چرې ما د خپلو ګناهونو اقرار اوکړو نو هسې نه چې بيا دوزخ ته اوغورځولے شم- (دا به هم په دې سوچونو کښې وي چې په دغه وخت به) الله اوفرمائي: اے بنده د خپلو ګناهونو اقرار اوکړه! زه به تا اوبخښم، تاته به جنّت عطا کړم-

بنده به وائي: نه مولیٰ! ستا په عزّت مې دې قسم وي! ما خو چرې هيڅ ګناه نه ده کړې، نه زما نه څه خطا شوې ده- الله پاک به فرمائي اے بنده! زما سره ستا خلاف ګواهان دي- بنده به ويريږي او اخوا ديخوا به ګوري، څوک به ورته نه ښکاري نو عرض به اوکړي: اے الله پاکه! ګواهان کوم دي؟ اوس به د الله پاک په حکم سره د ده څرمن خبرې کوي او د ده ټول واړه ګناهونه به بيان کړي- اوس به ده ته معلومه شي چې د بچ کيدو هيڅ حالت نشته، نو هم داسې به هغه د خپلو ګناهونو اقرار کوي او عرض به

کوي: مولیٰ! ستا په عزّت مې دې قسم وي ما خو غټې ګناهونه هم کړي دي- الله پاک به فرمائي: ماته پته ده، ته د ټولو ګناهونو اقرار اوکړه! زه به تا اوبخښم، تاته به جنّت هم عطا کړم- بس بنده به د خپلو ټولو ګناهونو اقرار اوکړي، بيا به دا جنّت ته داخل کړے شي- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا به د ټولو نه کمې مرتبې والا جنّتي وي-[1]

گناہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارَبّ
برائیوں پہ پشیماں ہوں رحم فرما دے | ہے تیرے قہر پہ حاوِی تِری عطا یارَبّ!
گناہ بےعدد اور جُرم بھی ہیں لاتعداد | معاف کر دے نہ سہ پاؤں گا سزا یارَبّ![2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ګنهګار ناکاره دليلونه

د وعظ او نصيحت په کتابونو کښې ليکلے شوي دي چې: د قيامت په ورځ به يو کَس ته د هغه عمل نامه ورکړے شي، هغه به عرض اوکړي: مولیٰ په دې کښې چې څه ليکلے شوي دي، هغه ما نه دي کړي، په دې به کِراماً کاتبين (يعني عملونه ليکونکې فرښتې) راوستے شي، بنده به عرض اوکړي: مولیٰ! دا فرښتې دي، دا ستا د حکم پابندې دي، زه به هغه ګواهان قبلووم کوم چې زما نه وي- الله پاک به د دې بنده ژبې ته حکم اوکړي: زما په قدرت ګويانه شه! او د حق نه سيوا نور هيڅ مه وايه- د بنده ژبه به

1...معجمِ کبير، جلد:4، صفحه:287، حديث:7567ـ
2...وسائلِ بخشش، صفحه:78ملتقطاًـ



www.dawateislami.net

د هغه ټول ښه او بد عملونه بيان کړي- بنده به بيا عرض اوکړي: مولیٰ! دا خو هم هغه ژبه ده کومه چې اکثر ګناهونه کوي، دا خو هسې هم زما دښمنه ده، زما خلاف زما د دښمن ګواهي څنګه معتبره کيدے شي؟

اوس به الله پاک د بنده لاسونو ته حکم اوکړي: اِنْطِقَا بِمَافَعَلَ عَبْدِی يعني (اے د دې بنده لاسونو!) اووائيئ زما بنده څه څه عملونه کړي دي؟ د هغه لاسونه به هر څه رښتيا رښتيا اووائي- بنده به بيا عرض اوکړي: مولیٰ! دا دواړه لاسونه په شريکه يو ګواه دے، دويم ګواه لا اوس هم پاتې دے- الله پاک به د ده ښپو ته اوفرمائي: تاسو څه وائيئ؟ زما بنده چې کوم څه کړي دي، د هغې رښتونې ګواهي ورکړئ--!! اوس به د ده ښپې هم د ده خلاف ګواهي ورکړي-

اوس به د بنده ټولې غوښتنې اومنلے شي، د هغه په ګناهونو باندې به ګواهئ قائمې شوې وي نو هغه به حيران شي او د خپلو اندامونو رټلو سره به داسې وائي چې: اے زما اندامونو--!! تاسو او زه خو يو يو، چې زه دوزخ ته ځم نو تاسو به راسره هم دوزخ ته ځئ، زه خو ستاسو د بچ کولو د پاره د خپل رَبّ په حُضُور کښې بيا بيا عَرض کووم او تاسو زما (يعني پخپله د خپل ځان) خلاف ګواهي ورکوئ؟ د هغه اندامونه (مثلاً لاسونه، ښپې وغيره) به وائي چې: مونږ د الله پاک په حکم باندې خبرې کوو، (الله پاک خو) هم هغه دے چې ټولو ته د خبرو کولو طاقت ورکوي-

اوس خو به بنده ډير اوشرميږي، اوس به د ده سره د خلاصي څه لاره پاتې نه شي، هم داسې به فرښتو ته حکم اوشي: اے فرښتو! دا د ټولو په مخکښې دوزخ ته



www.dawateislami.net

اوغورځوئ--!! اوس به هغه بنده عرض اوکړي: اے کريم رَبَّه! ته اَرۡحَمُ الرّٰحِمِين (يعني د ټولو نه زيات رحم کوونکے) ئې، په ما ګنهګار به ستا رَحمت کله وريږي؟ الله پاک به فرمائي: زما رحمت د منونکو د پاره دے، ته خپل ګناهونه اومنه! ستا به رحمت نصيب شي- بنده به سمدستي عرض اوکړي: زه خپل ټول ګناهونه منم، دا خو بس د دوزخ ويره وه، د کومې په سبب چې ما د اُلټا پلټا دليلونو ورکولو کوشش کولو- اوس به حکم اوشي: اے فرښتو! زما بنده زما په رحمت سره زما جنّت ته بوځئ! بے شکه دا ما اوبخښلو- [1]

نہ کرنا حشر میں پُرسش، مری ہو بے سبب بخشش
عطا کر باغِ فِردَوس از پئے شاہِ اُمم مولیٰ!
خِرَد کرتی نہیں اب کام، اِلٰہی! میں ہُوا ناکام
تجھی سے التجا ہے مجھ پہ کر رحم و کرم مولیٰ!
تُو بس رہنا سدا راضی، نہیں ہے تابِ ناراضی
تُو ناخوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ![2]

اے عاشقانِ رَسُول! دا دواړه ګنهګاران به رَبِّ کريم اوبخښي، د ګناهونو باوجود به ئې جنّت ته داخل کړي، يقيناً دا د هغه رحمت دے خو غور اوکړئ! معامله ځومره ګرانه ده، آه! د قيامت په ورځ به بهانې نه چليږي، نن خو به د ژبې چلولو سره نورو له دهوکې ورکړو، د اُلټا پلټا بهانو جوړولو سره به ئې زړونه وګټو، ځانله به د دروغو تسلي ورکړو خو آه! د قيامت په ورځ چې به رَبِّ قَهّار جَلَّ جَلَالُه په حضور کښې حاضري وي، په ګناهونو لړلے شوې، توره عمل نامه به په لاس کښې راکولے شي، په هغه وخت کښې به د انکار څه صُورت نه جوړيږي، زمونږ خپل اندامونه، خپل لاسونه، خپلې ښپې،

1...دُرَّةُ النَّاصحين، جلد:2، صفحه:381تا385 ملتقطاً-
2...وسائلِ بخشش، صفحه:97و98 ملتقطاً-

زمونږه ژبه، زمونږه څرمن به زمونږ خلاف ګواهي ورکوي، په دې حالت کښې به خلاصے موندل ډیر ګران شي- یقیناً د رشک قابل هغه دے څوک چې الله پاک په خپل رَحمت باندې جنّت ته داخل کړي-

امتحاں کے کہاں قابِل ہوں میں پیارے اللہ! | بے سبب بخش دے مولیٰ! ترا کیا جاتا ہے؟[1]

## خلاصے موندونکے د رشک قابل دے

امام حَسَن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: حیرانتیا په دې خبره باندې ده چې هلاکیدونکے به څنګه هلاکیږي! حیرانتیا په دې خبره باندې ده چې خلاصے موندونکے به خلاصے څنګه مومي؟[2] یعني د قیامت په ورځ د حساب کتاب معامله داسې سخته او ګرانه ده چې په هغې کښې د ناکامه کیدو سره د دوزخ حقداره جوړیدل ډیره آسانه خبره ده خو د خلاصي موندلو سره د جنّت حقداره جوړیدل ډیر ګران دي، ځکه حیرانتیا په دې خبره ده چې دوزخ ته بوتلونکے به دوزخ ته څنګه ځي، حیرانتیا خو په دې خبره باندې ده چې د حساب کتاب نه خلاصي موندونکي ته خلاصے څنګه میلاؤ شو؟

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے | ہو مجھ ناتواں پر کرم یاالٰہی!
گناہوں سے بھرپُور نامہ ہے میرا | مجھے بخش دے کر کرم یاالٰہی!
میں تھا لائقِ نارِ دوزخ خُدایا | دی جنّت ہے کتنا کرم یاالٰہی![3]

1...وسائلِ بخشش، صفحه:432-
2...آداب حسن بصری لابن جوزی، صفحه:24-
3...وسائلِ بخشش، صفحه:110ملتقطاً-


www.dawateislami.net

# د قیامت یو دردونکې نظاره

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ خو دنیا ته راغلو خو اوس به خلاصے څنګه حاصلیږي؟ لږ سوچ خو اوکړئ! هغه ورځ به څومره د ویرې والا ورځ وي، کله چې به حضرت اسرافیل عَلَیۡهِ السَّلَام شپیلئ ووهي، د شپیلئ خطرناک آواز اوریدو سره به ټول مړي د قبرونو نه راپاځي، ټول به په ژړا ژړا د حشر په میدان کښې جمع کړے شي، دا زمکه به د اوسپنې په زمکه باندې بدله کړے شي، لمر به د پاؤ باندې یو میل نه اور وروي، دوزخ به راوستے شي، د هغه په شا به د ویښته نه نرے، د تورې نه تیره، په تیرو کښې ډوب پل صِراط کینبودے شي، د قهر سره به مخامخ کیدل وي، خلق به په خوَلو کښې ډوب وي، قَهّار رَبّ جَلَّ جَلَالُه به په دغه ورځ داسې غضب فرمائي چې داسې غضب هغه چرې هم نه دے فرمائیلے، ډیره موده به په دغه حال کښې تیره شي، بیا به چرته وروستو حساب کتاب شروع شي۔

اوس لږ په دې سوچ اوکړئ! په دې حالت کښې به مونږ ته غږ کولے شي چې: اے فلانکې بن فلانکیه! د رَبّ په حضور کښې حاضِر شه--!! آه! په دې غضبانکه غږ به مونږ شکته کیږو، ویریږو، مخونه به پټوو خو آه! په دې ورځ څوک دے چې پټ به شي---؟ فرښتې به مو په زوره د جبّار او قَهّار رَبّ جَلَّ جَلَالُه حُضور کښې وړاندې کوي، آه! ډیر ځل آه! په داسې خطرناکه نظاره کښې به مونږ د خپل یو یو عمل حساب څنګه ورکوو؟ زمونږ عمل نامه به زمونږه په لاسونو کښې راکړے شي، زمونږ د وړوکي نه هر

ورړوکے، د غټ نه هر غټ عمل به په عمل نامه کښې درج وي، مجرمان به غږ کوي:

يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾ وَ لَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿۲۶﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾ مَاۤ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿۲۹﴾

(پاره:29،سورۂ حآقّة:25تا29)

ترجمهٔ کنزُ الايمان: هئ چې په څه طريقه ماته خپله عمل نامه نه راکړے کيدے او ماته پته نه لګيدے چې زما څه حساب دے، هئ چې په څه طريقه مرګ قصه ختمه کړې وه زما هيڅ پکار رانغلے زما مال زما تول زور تللو-

## د قيامت په ورځ به څه جواب ورکوو؟

اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! په هغه ورځ به مونږه څنګه حساب ورکولے شي---؟ خو افسوس! مونږ نه ويريږو، سستي کوو، په غفلت کښې اوسو، د مال او دولت حِرص، د دنيا د عهدو طلب او د نفس او شيطان په لمسون کښې د راتلو سره آخرت هيروو او په ګناهونو کښې پريوځو بلکه په ګناهونو فخر کوو، د توبې نه تختو، د خلقو نه که شرميږو هم خو د ربِّ رحمان نه حيا نه کوو، د شپې په تياره کښې، په بنده کمره کښې په پته ګناهونه کوو، خو ياد ساتئ! د قيامت په ورځ به زمونږ يو عمل هم نه شي پټيدے، د هر ورړوکي نه ورړوکے، د غټو نه غټ عمل به زمونږ مخې ته کړے شي- الله پاک فرمائي:

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿۷﴾ وَ

ترجمهٔ کنزُ الايمان: نو څوک چې د يوې ذرې برابر نيکي اوکړي هغه به

| | |
|---|---|
| مَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿۸﴾ (پارہ:30،سورۂ زلزال:8,7) | ئې ويني او چې د ذرې برابر بدي اوکړي نو هغه به ويني- |

خُدائے قہّار ہے غضب پر، کُھلے ہیں بدکاریوں کے دفتر
بچالو آکر شفیعِ محشر تمہارا بندہ عذاب میں ہے[1]

## يوه بدي هم نشي پټيدے

حضرت لقمان حكيم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه خوک چې د الله پاک يو نيک بنده دے، الله پاک هغوئي ته حکمت او دانائي ورکړې وه، هغوئي خپل ځوي ته نصيحت اوکړو، د کوم ذِکر چې په قرآنِ کريم کښې هم شته، هغوئي اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| يٰبُنَيَّ اِنَّهَاۤ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۶﴾ (پارہ:21،سورۂ لقمان:16) | ترجمهٔ کنزُ الايمان: اے زما ځويه بدي که د اورې د دانې برابر وي بيا هم که هغه په کاڼړو په غرونو کښې يا په آسمانونو کښې يا په زمکه کښې چرته وي الله پاک به هغه هم راوړي بے شکه الله د هرې باريکۍ پوهه لرونکے خبرداره دے- |

معلومه شوه، چې بدي که هر څومره وړه ولې نه وي او که هر څومره په پټه اوکړے شي، د قيامت په ورځ به الله پاک هغه بدي مخې ته راوړي، بے شکه الله پاک د

1...حدائقِ بخشش، صفحه:181۔

هرې ورېږ نه د ورېږ، د باریکې نه د باریکې خبرې پوهه لرونکے، خبرداره دے-

چھپ کے لوگوں سے کیے جس کے گناہ | وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے
ارے او مجرم بے پَرواہ دیکھ | سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے (1)

## د قیامت په ورځ به څه جواب ورکوو---؟

په بعضې آسماني کتابونو کښې دي، اللّٰه پاک فرمائي: اے زما بنده! ته به تر څو پورې زما نافرماني کوې؟ آیا ما په تا کښې روح نه دے پوکلے (یعني اچولے)؟ آیا تاته پته نشته چې زه د اطاعت کوونکو سره څه معامله کووم؟ آیا تاته پته نشته چې زه نافرمانۍ کوونکي څنګه رانیسم؟ آیا تا له حیا نه درځي؟ ته د مصیبت په وخت ما یادوې خو په خوشحالۍ کښې مې هیر کړې، نفساني خواهشونو ستا زړه تور کړے دے، ته به تر څو پورې سستي کوې؟ ستا سره به هغه وخت څه جواب وي چې کله ستا اندامونه ستا خلاف ګواهي ورکړي؟

یاالٰہی! نامۂ اعمال جب کھلنے لگیں | عیب پوشِ خلق ستّارِ خطا کا ساتھ ہو
یاالٰہی! جب بہیں آنکھیں حسابِ جُرم میں | اُن تبسّم ریز ہونٹوں کی دُعا کا ساتھ ہو
یاالٰہی! جب حسابِ خندۂ بیجا رُلائے | چشمِ گریانِ شفیعِ مرتجٰی کا ساتھ ہو (2)

## د قیامت په ورځ ګواهي ورکوونکي

اے عاشقانِ رَسُول! تل یاد ساتئ! اللّٰه پاک مونږ د پیدا کولو سره بالکل بے لګامه نه یو پرېښودي، په دې دنیا کښې زمونږه سخته نګراني کیږي، اَوَّل خو دا څه کمه ده چې **اللّٰه**

1...حدائقِ بخشش، صفحه:167۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:133۔

**پاک وینې**، څوک چې شرم او حیا والا دي، د هغوئي د پاره خو د الله پاک لیدل هم د ګناه پرېښودو د پاره کافي دي، بیا د دې سره سره نور هم ګواهان دي، کوم چې زمونږ د عملونو سخته نګراني کوي، علمائے کرام فرمائي: د قیامت په ورځ به په خلقو باندې 6 ګواهان وي:

## (1): ورومبے ګواه: زمکه

دا زمکه په کومې چې مونږ ژوند کوو، مونږ د زمکې نه هیڅ قسمه ویره او شرم نه کوو، په دې هر جائز او نا جائزه کار کوو، دا زمکه زمونږه په هیڅ قسمه حرکت باندې د خپل څه رَدِّ عمل اظهار نه کوي خو سبا د قیامت په ورځ به دا زمکه هم زمونږه په باره کښې ګواهي ورکوي، الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| یَوْمَىٕذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ﴿۴﴾<br>(پاره:30،سورۂ زِلْزَال:4) | ترجمۂ کنزُ الایمان: په دغه ورځ به دا (یعني زمکه) خپل احوال تیروي (یعني خبرې کوي)- |

امام فخرُ الدِّین رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیتِ کریمه په تفسیر کښې لیکي: بے شکه د قیامت په ورځ به الله پاک دا زمکه ژوندۍ، عقل منده او خبرې کوونکې جوړه کړي، دا زمکه به پیژني چې په دې اوسیدونکو څه څه عملونه کول، بیا به دا د نیکانو خلقو په حق کښې او د ګنهګارانو خلاف ګواهي ورکوي- (1)

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک آخري رسول، رسولِ مقبول

1...تفسیرِ کبیر، پاره،30،سورۂ زلزال، تحت الآیة:4، جلد:11، صفحه:255۔

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې آیت تلاوت اوکړو:

يَوْمَىٕذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ (پاره:30،سورۂ زِلْزَال:4)

ترجمۂ کنزُ الایمان: په دغه ورځ به دا (یعني زمکه) خپل احوال تیروي (یعني خبرې کوي)۔

بیا فرمائې: تاسو ته پته ده چې د دې (زمکې خبرونه څه دي؟ صحابۂ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان عرض اوکړو: د الله پاک او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښه پوهیږي۔ خوږ آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د زمکې خبرونه دا دي چې زمکه به په هر نارینه او هره زنانه باندې د هغوئې د عملونو ګواهي ورکوي کوم چې دوئې د دې په شا کړي وي، هغه به وائي: ده په فلانکۍ ورځ دا عمل اوکړو او هغه په فلانکۍ ورځ دا عمل اوکړو، د دې خبرونه دي۔ [1]

اے عاشقانِ رَسُول! دا زمکه به د قیامت په ورځ ګواهي ورکوي، ځکه په دې احتیاط کول پکار دي، مونږ له پکار دي چې مونږه زمکه د خپلو نیکو ګواه جوړه کړو، په زمکه لمونځونه اوکړو، ذِکرُ الله اوکړو او زمکه، دا ونې، کانړي، د زمکې ذرې د خپلو نیکو عملونو ګواه جوړې کړو۔

## لاره به دې د ذِکرُ الله ګواه جوړه کړې وه

یو بزرګ تیر شوے دے: حضرت اَبُو المَلِیح رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ - د هغوئې عادت مبارک وو چې چرته به تللو نو په لاره به ئې ذِکرُ الله کولو، که چرې به ترې ذِکرُ الله هیر شو نو واپس به راتلو

1...ترمذی،ابواب صفة القیامة، صفحه:577، حدیث:2429۔

او بيا به په هغه لار تللو او ذِكرُ الله به ئې كولو او تيريدلو به او فرمائيل به ئې: زه غواړم چې زه د زمكې په كومه حصه هم تيريږم هغه د قيامت په ورځ زما د ذِكرُ الله ګواهي وركړي-[1]

سُبْحٰنَ الله! زمونږه د بزرګانو انداز څومره ښكلے وو! هغوئي به د نيكو څومره حرص كولو--! آه! يو مونږ يو چې د غفلت ښكار يو، افسوس! داسې نادانه هم شته كوم چې د سفر كولو په وخت په ګناهونو كښې مصروفه وي، په ګاډي كښې، ويګن، بس، ټرين او جاز وغيره كښې فلمونه، ډرامې ګوري او د سندرو اوريدو سره وخت تيروي، په كلو په كوڅو تيريدو سره په موبائل سندرې اوري او ځان سره ئې وائي- داسې ګسانو له غور پكار دے چې هغوئي زمكه په كومه خبره باندې خپله ګواه جوړوي- خوږ نبي، مكي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: تَحَفَّظُوْا مِنَ الْاَرْضِ يعني د زمكې نه بچ اوسيږئ--! فَاِنَّهَا اُمُّكُم بے شكه دا ستاسو اَصل دے وَاِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَحَدٍ عَامِلٍ عَلَيْهَا خَيْرًا وَّ شَرًّا اِلَّا هِيَ مُخْبِرَةٌ كوم يو بنده چې په دې زمكه باندې د ذَرې برابر نيكي كوي يا ګناه كوي، (د قيامت په ورځ به) دا زمكه د هغه په باره كښې ګواهي وركوي-[2]

| | |
|---|---|
| گناہوں کی نحوست بڑھ رہی ہے دم بدم مولیٰ | میں توبہ پر نہیں رہ پا رہا ثابت قدم مولیٰ |
| نہ کرنا حشر میں پُرسش مری ہو بے سبب بخشش | عطا کر باغِ فردوس از پئے شاہِ اُمم مولیٰ[3] |

## (2-3): د قيامت په ورځ دوه ګواهان: ورځ او شپه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا شپه او ورځ به هم د قيامت په ورځ په مونږه

1...تَنْبِيْهُ الْمُغْتَرِّيْن، صفحه:88-

2...معجمِ كبير، جلد:3، صفحه:200، حديث:4462-

3...وسائل بخشش، صفحه:97 ملتقطاً-

ګواهان وي، مونږ چې د ورځې په رڼړا کښې کوم کارونه کړي وي يا د شپې په تياره کښې مو کړي وي دا به ټول وائي، هم ځکه په حديثِ پاک کښې دي، د رسولانو سالار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: هره ورځ چې کله راځي نو دا اعلان کوي: اے اِبنِ آدم! زه ستا سره نوے مخلوق يم، نن چې ته په ما کښې کوم عمل کوې زه به د قيامت په ورځ د هغې ګواهي ورکووم، ته په ما کښې نيکي اوکړه چې زه ستا د نيکۍ ګواهي ورکړم، زما د تللو نه پس به چرې هم ما اونه وينې- رسولِ ذيشان، مکي مدني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: شپه چې کله راځي، هغه هم داسې اعلان کوي- (1)

| | |
|---|---|
| دن رات مسلسل ہے گناہوں کا تَسَلسُل | کچھ تم ہی کرو نا یہ نُحُوست نہیں جاتی |
| گو پیشِ نظر قبر کا پُرھول گڑھا ہے | افسوس! مگر پھر بھی یہ غفلت نہیں جاتی(2) |

## (4): کِراماً کاتبين

د قيامت په ورځ به په مونږ باندې څلورم ګواه زمونږه عملونه ليکونکې فرښتې کِراماً کاتبين وي- اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِنَّ عَلَیْكُمْ لَحٰفِظِیْنَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِیْنَ ﴿۱۱﴾ یَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۱۲﴾ (پاره:30،سورۂ انفطار:10تا12) | ترجمهٔ کنزُ الايمان: او بے شکه په تاسو باندې څه نګهبانې (مقرر) دي مُعزّزه ليکونکې چې پوهيږي څه چې تاسو کوئ- |

په غيبو پوهيدونکے آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: انسان

1...حلية الاولياء، جلد:2، صفحه:344، رقم:2501-
2...وسائل بخشش، صفحه:382ملتقطاً-

د ژوند د مقصد نه غافله دے، کله چې الله پاک د انسان د پیدا کولو اراده فرمائي نو فرښتو ته حکم کوي: د ده د رِزق او د ده د مرګ وخت اولیکه! فرښته ئې اولیکي او لاړه شي، بیا یوه بله فرښته مقرر کړے شي کومه چې د پیدا کیدو پورې د ده حفاظت کوي، بیا چې کله انسان پیدا شي نو 2 فرښتې د ده سره مقرر کړے شي کومې چې تر مرګه پورې د ده نیکئ او ګناهونه لیکي، بیا چې کله د انسان د مرګ وخت راشي نو فرښتې د آسمانونو په لور لاړې شي، بیا چې به کله قیامت راځي نو فرښتې به د بنده خوا له راشي، د ده عمل نامه به د ده په غاړه کښې واچوي، یوه فرښته به دا په زوره د حشر میدان ته بوځي او بله فرښته به په دې ګواهي ورکوي-[1]

چھپ کے لوگوں سے گناہوں کا رہا ہے سلسلہ | تیرے آگے یاخدا ہر جُرم کا اظہار ہے[2]

## (5): علم نامه

د قیامت په ورځ به پینځم ګواه په مونږه باندې عمل نامه وي کومه چې کِراماً کاتبین پرله پسې لیکي، په دې عمل نامو کښې زمونږه هر وړوکے او غټ عمل درج وي، د صحابئ رسول حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې، سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ټولې عمل نامې د عرش د لاندې دي، کله چې د قیامت ورځ شي نو الله پاک به یوه هوا اولیږي کومه چې به عمل نامې والوځوي او د چا

1...حلیۃ الاولیا، جلد:3، صفحہ:221، رقم:3775۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:478۔

ښې او د چا ګس لاس ته به ئې اورسوي، په عمل نامه باندې به وړومبے ليک دا وي: [1]

| اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿۱۴﴾ (پاره:15، سورۂ بني اسرائيل:14) | ترجمۂ كنزُ الايمان: فرمائيلے به شي خپله عمل نامه اولوله نن ته پخپله د خپل حساب د پاره کافي ئې- |
| --- | --- |

امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: خپله عمل نامه به هر يو پخپله لولي که هغه په دنيا کښې په لوستلو پوهيږي او که نه- [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قيامت په ورځ به دا مرحله هم ډيره ګرانه وي، علّامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د قيامت په ورځ چې به کله بنده ته عمل نامه ورکړے شي، هغه ئې اوګوري چې په هغې کښې د ټولو نه وړه ګناه هم درج ده نو بنده به خپل سر ښکته کړي او ډير به اوشرميږي، الله پاک به فرمائي: اے بنده! سر اوچت کړه---!! آيا ته دا ګناه پيژنې؟ بنده به عرض اوکړي: مولیٰ! ستا په عزّت او جلال مې دې قسم وي! زه دا پيژنم- الله پاک به فرمائي: بنده! تاته ياد دي، په فلانکئ ورځ، په فلانکي وخت، فلانکي ځائے کښې تا دا ګناه کړې وه؟ بنده به اقرار کوي، الله پاک به فرمائي: تا د خلقو نه په پټه ګناه اوکړه خو تاته دا پته وه چې زه وينم، آيا تا له زما نه حيا نه درتله؟ آيا ته په دې نه پوهيدې چې تاته بيرته زما خوا له راتلل دي؟ دغه وخت به د انسان سره هيڅ جواب نه وي، په دغه وخت به انسان په شرم کښې ډوب وي، هغه ته به د ځان نه کرَکه ورځي او په ويرې سره به عرض کوي: مولیٰ! ته ما دوزخ ته

---

1...الضعفاء للعقيلي، جلد:4، صفحه:1566، حديث:2105-

2...تفسيرِ كبير، پاره:15، سورۂ بنی اسرائيل، تحت الآية:14، جلد:7، صفحه:309-

اوغورځوه، د دې رټلو او شرم په نسبت دوزخ ته تګ زما د پاره آسان دے-[1]

| | |
|---|---|
| چھپ کے لوگوں سے کیے جس کے گناہ | وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے |
| ارے او مجرم بے پَروا دیکھ | سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے[2] |

## (6): شپږم ګواه: زمونږ اندامونه

د قيامت په ګواهانو کښې شپږم ګواه به زمونږ اندامونه وي، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَ اَيْدِيْهِمْ وَ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ (پاره:18،سورۂ نور:24) | ترجمهٔ کنزُ الایمان: په کومه ورځ چې به په هغوئي ګواهي ورکوي د هغوئي ژبې او د هغوئي لاسونه او د هغوئي ښپې څه چې به ئې کول- |

حضرت عَلَّامه محمود آلوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيتِ کريمه په وضاحت کښې ليکي چې: د قيامت په ورځ به الله پاک زمونږه اندامونو ته د خبرو کولو طاقت ورکړي، بيا به هر اندام د بنده په باره کښې ګواهي ورکوي چې هغه به د دغه اندامونو نه څه کار اخستو-[3]

آه! ډير ځله آه! لږ سوچ خو اوکړئ! دا به څنګه هوش لرې کوونکې نظاره وي، ښپې به وائي: مولیٰ! په فلانکۍ ورځ، په فلانکي وخت فلانکے د ګناه ځائے ته تلے وو، لاسونه به وائي: مولیٰ! ده مونږ په حرامو ګټلو، حرامو خوړلو او حرامو معاملو کښې استعمال کړو، سترګې به وائي: مولیٰ! ده به زمونږ په ذريعه غلط نظر کولو، فلمونه او

1...بستان الواعظين، صفحه:89خلاصةً-
2...حدائقِ بخشش، صفحه:167-
3...تفسيرروح المعاني، پاره:18، سورۂ نور، تحت الآية:24، جزء:18، جلد:9، صفحه:442-

ډرامې به ئې کتلې، غوږونه به ګواهي کوي: مولیٰ! ده به زمونږ په ذريعه سندرې باجې اوريدلې، د ګنده خبرو اوريدو سره به ئې مزې اخستلې، ژبه به وائي: مولیٰ! ده به زما په ذريعه غيبت کولو، دروغ به ئې وئيل، چغلي به ئې کوله، فضول خبرې به ئې کولې، آه! په هغه وخت چې به زمونږه د بدن اندامونه زمونږ خلاف ګواهي کوي، هغه وخت به مونږ خپل ځان څنګه بچ کوو؟ په خپله صفائيئ کښې به زمونږ سره څه عُذر وي؟

آه! اے عاشقانِ رَسُول! دا زمکه، دا ورځ او دا شپه، زمونږه عملونه ليکونکې فرښتې، تر دې پورې چې زمونږه اندامونه، زمونږه سترګې، ژبې، غوږونه، لاسونه، ښپې ټول به په مونږه ګواهي کوي نو اووائيئ! د خلاصې به کومه لاره وي؟ آيا څه عذر به زمونږ سره پاتې وي؟ نه به وي خو افسوس! مونږ نه پوهيږو، مونږ نه ويريږو، مونږ آخرت هيروو، د دنيا عارضي ژوند، د دې ځائے په لږ شان عيش او عشرت خوشحاليږو، آه! خلاصے ډير ګران دے، مونږ بيا هم د ګناهونو نه نه منع کيږو۔

| | |
|---|---|
| گناہوں کی عادت بڑھی جا رہی ہے | کرم یاالٰہی! کرم یاالٰہی! |
| گناہوں سے بھر پور نامہ ہے میرا | مجھے بخش دے کر کرم یاالٰہی! |
| تُلیں میرے اعمال میزاں پہ جس دم | پڑے اِک بھی نیکی نہ کم یاالٰہی![1] |

## غټ جاهل څوک---؟

يو ځل خليفه عبد الملک بن مروان حضرت منصور بن عمّار رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ته اووئيل: اے منصوره! يوه پوښتنه ده، زه تاسو له د يو کال مهلت درکووم، د دې جواب اولټوئ! هغه

1...وسائلِ بخشش، صفحه:111110 ملتقطاً۔



www.dawateislami.net

پوښتنه دا ده چې **د ټولو نه زيات عقل مند څوک دے؟ او د ټولو نه غټ جاهل څوک دے؟** منصور بن عمّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پوښتنې اوريدو سره د جواب لټولو د پاره د محل نه بهر اووتلو، لا بهر وتلے وو چې سمدستي واپس شو، خليفه عبد الملک بن مروان چې هغوئي اوليدل نو اوئې وئيل: اے منصور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ! آيا جواب ميلاؤ شو؟ اوئې فرمائيل: آؤ! د ټولو نه زيات عقل مند هغه دے څوک چې د نيکو کولو سره هم ويريږي او د ټولو نه غټ جاهل هغه دے څوک چې ګناه هم کوي، بيا هم د الله پاک د قهر نه نه ويريږي-

دې اوريدو سره عبد الملک بن مروان په ژړا شو، بيا ئې اووئيل: اے منصور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ! په الله پاک مې دې قسم وي! تاسو صحيح اووئيل- ماته د زړه شِفَا يعني د قرآنِ کريم يو آيت واوروئ! مَنصُور بن عمّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 3 سيپارې سورۂ آلِ عمران دا آيتِ کريمه اولوستلو:

| | |
|---|---|
| يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚۖ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ (پاره:3،سورۂ آلِ عمران:30) | ترجمۂ کنزُ الايمان: په کومه ورځ چې هر چا کوم ښه کار کړے وي حاضر به ئې مومي او کوم ئې چې بد کار اوکړو- |

دې اوريدو سره خليفه عبد الملک بن مروان بے هوشه شو، کله چې په هوش کښې راغلے نو اوئې وئيل: اے منصور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ! د الله پاک د فرمان:

| | |
|---|---|
| وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ (پاره:3،سورۂ آلِ عمران:28) | ترجمۂ کنزُ الايمان: او الله تاسو د خپل غضب نه يروي- |



www.dawateislami.net

څه معنیٰ ده؟ حضرت مَنصُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اوفرمائيل: مطلب دا دے چې الله پاک تاسو د خپلې ګيرې او ګرفت نه يروي۔

دې اوريدو سره خليفه عبد الملک بن مروان په ژړا شو، تر دې پورې چې بے هوشه شو، بيا چې کله په هوش کښې راغلے نو اوئې وئيل: په الله پاک مې دې قسم وي! څوک چې په دې آيت کښې غور او فکر اوکړي او بيا هم د خپل رَبّ نافرمانې کوي، هغه د نيغې لارې نه بيخې بے لارې شوے دے۔ [1]

اے عاشقانِ رَسُول! واقعي معامله هم داسې ده، مونږه مسلمانان يو، زمونږه عقيده ده چې قيامت به قائميږي، مونږ ته پته ده او منو ئې چې د قيامت په ورځ به د يو يو عمل حساب ورکول وي، مونږه په دې هم پوهيږو چې د قيامت په ورځ به زمونږ سره هيڅ عذر نه وي، د دې باوجود مونږه ګناه اوکړو، په نافرمانيانو ولاړ يو، د توبې په لور نه ځو نو اووائيئ! زمونږ نه به غټ نادانه څوک وي؟ کاش! چې مونږ د قيامت د حساب په سخت والي پوهه شو، کاش! چې مونږ ته د الله پاک په دربار کښې د وړاندې کيدو ويره نصيب شي۔

## د الله پاک په دربار کښې د وړاندې کيدو ويره

حضرت شيخ سَعدي شِيرازي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: په مسجد الحرام کښې بعضې خلق د کعبۃ الله شريف سره نزدې په عبادت کښې مصروفه وو۔ ناڅاپه هغوئې يو ګس اوليدو چې د کعبې ديوال ته ورغاړه وتے دے او په سلګو سلګو ژاړي او د هغه په

1...بُستانُ الواعظين، صفحه:79۔

شونډو دا دعا جاري ده، اے الله! که چرې زما عملونه ستا د بارګاه لائق نه دي نو سبا په قیامت کښې ما رڼوند پاڅوه۔

د دې عجیبه شان دعا اوریدو سره خلق ډیر حیرانه شول، هغوئي د دعا غوښتونکي نه پوښتنه اوکړه: اے شیخ! مونږ خو په قیامت کښې د عافیت طالب ګار یو او تاسو د رڼوند پاڅیدو دعا کوئ، په دې کښې څه راز دے؟ هغه ګس په ژړا کښې جواب ورکړو، زما مطلب دا دے چې که چرې زما عملونه د الله پاک په بارګاه کښې لائق نه وي نو زه په قیامت کښې دې د پاره رڼوند پاڅول خوښووم چې زه د خلقو په مخکښې اونه شرمیږم۔ هغه ټول خلق د دې عارفانه جواب اوریدو سره بے حده متاثره شو خو خپل مخاطب ئې نه پیژندلو، ځکه ئې پوښتنه اوکړه: اے شیخ! تاسو څوک ئې؟ هغوئي جواب ورکړو: **زه عبد القادر جیلاني یم۔** [1]

| | |
|---|---|
| تِرے خوف سے تِرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھرتھر رہوں کانپتا یاالٰہی! |
| بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہر دَم بچا یاالٰہی! |
| عبادت میں گزرے مِری زندگانی | کرم ہو کرم یاخُدا یاالٰہی! [2] |

## بے حسابه جنّت ته بوتلونکي عملونه

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک دې مونږ ته د آخرت د حساب ویره نصیب کړي! یقیناً مونږ د حساب ورکولو لائق نه یو، آه! که چرې زمونږ نه حساب واخستے شو نو د رسوائیئ نه سیوا به هیڅ په لاس رانشي۔ ځکه دعا کول پکار دي چې الله پاک دې

1...خوفِ خدا، صفحه:120۔
2...وسائل بخشش، صفحه:105ملتقطاً۔

مونږه بے حسابه‌ه خپل رحمت سره، د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت باندې بے حسابه جنّت ته بوتلل نصيب کړې-

تُو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم | دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا

په حديثونو مبارکو کښې ډير داسې عملونه بيان کړے شوي دي، په کومو چې به د عمل کولو په برکت سره اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! بے حسابه جنّت ته تګ نصيب شي-

## (1): په وخت لمونځ کول

د حضرت عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے چې، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله پاک فرمائي: زما د بنده زما په ذِمهٔ کرم باندې لوظ دے چې که چرې هغه په وخت لمونځ ادا کړي نو زه به هغه له عذاب نه ورکووم بلکه بے حسابه به ئې جنّت ته بوځم-[1]

## (2-3-4): په حساب کښې آسانئ کوونکې 3 عملونه

د حضرت ابوهريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په چا کښې چې دا 3 خصلتونه وي، الله پاک به د هغه حساب په آسانئ سره اخلي او هغه به په خپل رحمت جنّت ته بوځي، هغه 3 خصلتونه دا دي: **(1):** څوک چې تا محرومه کړي، تاسو هغوئي ته عطا کړئ **(2):** څوک چې ستاسو سره تعلق پريږدي نو تاسو ورسره تعلق جوړ کړئ **(3):** او څوک چې په تاسو ظلم اوکړي تاسو هغه معاف

1...کنزالعمال، جزء:7، جلد:4، حديث:19032-

کړېږ- [(1)]

په یو روایت کښې دي: د قیامت په ورځ به اعلان کیږي: د چا اجر چې د الله پاک په ذِمهٔ کرم باندې دے، هغوي راپاڅئ او جنّت ته لاړ شئ، پوښتلے به شي: د چا اَجر د الله پاک په ذِمهٔ کرم باندې دے؟ وئیلے به شي: هغوئي څوک چې معاف کوونکي دي- دې اوریدو سره به په زرګونو خلق راپاڅي او بے حسابه به جنّت ته داخل شي- [(2)]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د آخرت د حساب او د هغې د سختۍ په نسبت دا څومره آسان عمل دے، چې بنده خپل ګناهونه یادوي او ژاړي، د لمونځونو پابندي کوي، عِلمِ دین زده کړي، په هغې باندې عمل اوکړي، که الله پاک توفیق ورکړي نو د حج سعادت حاصل کړي، د ګناهونو نه بچ شي، حلال اوګټي، په حلاله طریقه ئې اولګوي، د نورو د معاف کولو عادت خپل کړي نو د الله پاک په رحمت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! بے حسابه جنّت ته داخلیدل نصیب شي-

## نن خپله مُحَاسَبَه اوکړئ---!!

د قیامت په ورځ د حساب د سختۍ نه د بچ کیدو او بے حسابه جنّت ته د تللو د پاره یو بل ډېر ښکلے عمل دے او هغه دا دے چې: خپله جائزه اخستل- امام حسن بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: د قیامت په ورځ به د هغه خلقو حساب آسان وي څوک چې نن په دنیا کښې د الله پاک د رضا د پاره خپله مُحَاسبه (یعني جائزه) کوي، هغه داسې

1...مسندبزار، جلد:15، صفحه:220، حدیث:8635۔

2...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:542، حدیث:1998ملتقطاً۔

چې کله هم دوئي ته څه کار ورپېښ شي نو اوَّل غور او فِکر کوي، که په هغې کښې د الله پاک د رضا اړخ په نظر راشي نو کوي ئې او که د آخرت نقصانويني نو د هغې نه منع شي- نور ئې اوفرمائيل: د قيامت په ورځ به د هغه خلقو حساب په سختئ سره اخستے شي ځوک چې نن په دنيا کښې د عمل کولو په وخت غور او فِکر نه کوي او د جائزې اخستو نه بغير هر يو کار کوي، داسې به خلق ويني چې الله پاک د هغوئي د وړوکي نه وړوکے عمل شميرلے دے- (1)

## د دُعا په برکت سره وريځې راغلې!

يو ځل د حضرت مُطَرِّف بن شِخِّير رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په خِدمت کښې څه خلق حاضر وو، ډيره ګرمي وه، ټول تږي شوي وو خو اوبه نه وې، هغوئي ځوک د اوبو د پاره اوليږل، ډير وخت تير شو، اوبه رانغلې- په خلقو کښې د چا سره لږې شان اوبه موجودې وې، حضرت مُطَرِّف رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په هغه اوبو اودس اوکړو او دوه رکعته لمونځ ئې ادا کړو او دعا ئې اوکړه، د دې په برکت سره سمدستي وريځې راغلې، باران اوشو، حضرت مُطَرِّف رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه او د هغوئي ملګرو ښه ډيرې اوڅکلې او تنده ئې ماته کړه- وروستو چا پوښتنه اوکړه: عالي جاه! تاسو دا مرتبه څنګه بياموندله؟ اوئې فرمائيل: زه خپله عمل نامه خپلې مخې ته ګيرِدم (يعني په خپلو عملونو باندې غور کووم) او شپه ورځ په دې تَصَوُّر کښې اوسم چې لکه قيامت راغلے دے او زه د الله پاک په بارګاه کښې خپله عمل نامه لولم- (2)

---

1...فيضانِ احياءُالعلوم، صفحه:103بتغير-

2...بُستانُ الواعظين، صفحه:97-

# د بیان خلاصه

کاش! چې مونږ ته هم داسې توفیق میلاؤ شي! چې مونږ هم په خپلو عملونو باندې غور او فِکر کوو، د قیامت د حساب نه مخکښې په دنیا کښې پخپله د خپلو عملونو حساب کوو، ګنې که چرې د قیامت په ورځ حساب واخستے شو نو یقین اوکړئ! ډیره ګرانه به شي، آه! دا زمکه، دا ورځ او دا شپه، زمونږه عملونه لیکونکې فرښتې، زمونږه عمل نامه، تر دې پورې چې زمونږه اندامونه به هم زمونږه خلاف ګواهان جوړ شي، په داسې حالت کښې به خلاصے څنګه بیامونځو---؟ ځکه لازمي ده چې مونږه هم نن د الله پاک په دربار کښې د وړاندې کیدو نه ویریږو، خپله جائزه اخلو، د الله پاک نه بے حسابه د جنّت سوال کوو او بے حسابه جنّت ته بوتلونکې عملونه هم کوو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

آمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک عملونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د اوسني وخت عظیم علمي او روحاني شخصیت شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ د فتنو نه په دې ډک دور کښې مونږ له د نیک جوړیدو او د خپلو عملونو د جائزې اخستو ډیره آسانه طریقه عطا کړې ده او هغه دا ده: **د نیک اعمال رساله**- د اسلامي ورور د پاره 72 نیک عملونه او د اسلامي خوئیندو د پاره 63 نیک عملونه- په دې رساله کښې مختلف سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې خالي خانه ده، هره ورځ د وخت

ټاکلو سره د دغه سوالونو لوستو سره د آؤ يا نه په شکل کښې خالي خانې ډَکَوَل وي، د خپلو عملونو د جائزې اخستو دا بهترينه او آسانه طريقه ده- تاسو هم د مَكْتَبَةُ الْمَدِينَه نه دا رساله حاصله کړئ!

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ **نيک اعمال ايپلي کيشن** هم جاري کړے دے، په خپل موبائل کښې دا **نيک اعمال ايپلي کيشن** انسټال کړئ، هره ورځ د خپلې خوښې يو وخت اوټاکئ او د خپلو عملونو جائزه واخلئ، د يو څو منټو د پاره رساله برسيره کړئ، يو يو سوال لولئ او په لاندې ورکړے شوؤ خانو کښې د عمل کولو په شکل کښې په آؤ او د عمل نه کولو په شکل کښې په نه نخښه کوئ او د دې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به ښکاره اووينئ- ياده ساتئ د نيکو عملونو په ذريعه خپله جائزه اخستل د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار هم دے- راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنئ سمه شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي وررور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئې کښې يو اسلامي وررور ماته د ماښام د لمونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئې سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان په آخره کښې مبلغ د **نيک اعمال** رسالې پيژندګلو اوکړه، په رساله

نيک اعمال کښې د درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدو سره ماته ډيره خوشحالي ميلاؤ شوه، د دې رسالې په شکل کښې د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدو سره ما لاس په لاس د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرفته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې او سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چينل په ځائے مدني چينل اولګيدو-[1]

| | |
|---|---|
| خوب مدنی قافلوں کی دھوم ہو | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین |
| "مدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین[2] |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مدني انعامات ته اوس نيک اَعمَال وئيلے شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ايپلي کيشن پيژندګلو

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د خلقو د آسانئ او د

1...دلوں کا چین، صفحه:4-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:258-

اُمَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غمخورئ د پاره موبائل ايپلي کيشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** معرفي کړے دے- د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو ❀ آن لائن استخاره کولے شئ ❀ د بيمارئ، بد نظر، جادو، د سترګو نه د اوبنکو بهيدو وغيره مسئلو حل کولو د پاره في سبيل الله تعويذات حاصلولے شئ ❀ او آن لائن کاټ هم کولے شئ-

**نور په دې ايپلي کيشن کښې** ❀ د بيمارئ ❀ غريبئ ❀ غم او پريشانئ ❀ او د آفتونو او بلاګانو وغيره نه د حفاظت مختلف اوراد او وظيفې هم شاملې دي- په خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! ځکه ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

1...مشکوٰۃ، کتابُ: الْاِيمان، باب: الْاِعْتِصَام، جلد: 1، صفحه: 55، حديث: 175۔

# د هديرې د حاضرۍ سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين: **(1):** د قبرونو زيارت کوئ ځکه چې دا په دنيا کښې د بې رغبتۍ سبب او آخرت رايادوي۔ [1] **(2):** څوک چې د خپل مور پلار دواړو او يا د يو د قبر د هرې جمعې په ورځ زيارت اوکړي، د هغه بخښنه به اوشي او نيکو والا به ليکلے شي۔ [2]

اے عاشقانِ رَسُول! ❀ د مسلمانانو د قبرونو زيارت کول سُنّت او د اوليائے کرامو او شهدائے عظامو په مزارونو باندې حاضري سعادت بَر سعادت او هغوئ ته ايصالِ ثواب مندوب (يعني خوښ) او ثواب دے ❀ د مزار شريف يا د قبر د زيارت د پاره چې ځئ نو په لاره کښې فضول خبرې مه کوئ ❀ قَبر ته د تعظيم سجده کول حرام کار دے او که چرې د عبادت په نيت سره وي نو کُفر دے ❀ هديرې ته په هغه عامه لاره ځئ، چرته چې په تير وخت کښې چرته هم د مسلمانانو قبرونه نه وو، کومه لاره چې نوې جوړه وه په هغې مه ځئ۔ په **فتاویٰ شامي** کښې دي: (په هديره کښې چې د قبر ورانولو سره) کومه نوې لاره جوړه کړے شوه په هغې تلل حرام دي ❀ بلکه د نوې لارې که صرف ګمان (يعني شک) وي نو بيا هم په هغې تلل نا جائزه او ګناه ده ❀ په ډيرو د اوليائے کرامو په مزارونو ليدلے شوي دي چې د زيارت کوونکو د آسانۍ د پاره د قبرونو ورانولو سره فرش جوړولے شي، په داسې فرش سملاستل، تلل، اودريدل، تلاوت کول او د ذِکر و اَذکار د پاره کښيناستل وغيره حرام دي، چرته چې داسې حالات وي هلته د لرې نه فاتحه اولولئ ❀ د

1...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ما جاء فی زيارة القبور، صفحه:252، حديث:1571۔
2...شُعَبُ الايمان، جلد:6، صفحه:201، حديث:7901۔

قبر د پاسه **ګر باتۍ** مه لګوئ په دې کښې بے ادبي او بد فالي ده، آؤ که چرې (حاضريدونکو ته) د خوشبو (رسولو) د پاره ئې (لګول غواړئ نو) د قبر سره خوا کښې که خالي ځائے وي نو هلته ئې اولګوئ چې خوشبو رَسَوَل خوښ عمل دے، د قبرونو د زيارت د پاره دا 4 ورځې بهترې دي، د ګل، زيارت، جمعې، خالي- د جمعې په ورځ د سحر د لمانځه نه پس د قبرونو زيارت افضل کار دے- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 100 مخونو کتاب **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَ الله سر بَسَر
جو بھی شیدائی ہے مدنی قافلوں کا یاخدا | دوجہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا (2)

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

آمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...550سنتیں اور آداب، صفحه:87تا90ملتقطاً۔
2...وسائل بخشش، صفحه:635ملتقطاً۔



www.dawateislami.net